**په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د مرستي هیئت**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**ټیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنا لیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama-afg.org

# مطبوعاتی بیانیه

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د خاص نماینده د ویاند د دفتر،**

کابـــل ـ۰۵/۰۳/۲۰۰۸

## د دنمارکی کارتونو په باره کی د یوناما بیانیه

موږ د ډنمارکي کارتونو او هالندي فلم د خپریدلو له امله چي کومي شخړي راپورته شوي، د افغان وګړو په اندیښنو کي ځان شریک بولو. موږ تل باور لرو چي د رسنیو ازادي د مذهبي باورونو، او ټولو مذهبونو اصولو ته او د اسلام د سپیڅلی دین د اصولو پر شمول، بشپړ درناوي کوي.

موږ د بیلا بیلو خلکو د عقیدو او کلتوري عنعنو تر منځ د سوله ییزو خبرو اترو او د دوه اړخیزه درناوی له طریقه سوء تفاهم او د دشمني د له منځه وړلو په اهمیت باور لرو. موږ په دې اړه د ولسي جرګي د غړیو له خوا د نیول شوې  او اصولی اعلامیې ستاینه کوو.

دا خورا مهمه ده چي موږ پوه شو چي د یو کارتونیست او یوه فلم جوړونکی عملونه نه شو کولای د نړیوالي ټولني د برخي اخیستني لوړ ماهیت د افغانستان او د افغانستان د حکومت سره چي بنسټ یي همیشه په دوه اړخیز درناوی او پوهای ولاړ وو، منعکس او توصیف کړي.